نیازمحمد مومند

۲۰-۰۷-۲۰۱۱

# د خواخوږی پیغام

د روان کال د جولای د میاشتي د اولسمي نیټي د ماښام په وخت مي دا زړه بګنوونکی خبر تر غوږ شه چي د افغانستان په ولسی جرګه کي د ارزګان د خلکو استازی محمدهاشم وطنوال د ولسمشر کرزی د سلاکار د ارزګان د وتلی قومی مشر جان محمدخان سره یو ځای د هیواد او خلکو د دشمنانو له خوا په شهادت ورسول شول.

دغي خونړی پیښي نه یواځي د غښتلی او زړور وطنوال مهربانه زړه له خوزښته ودراوه او د هغه پتمنه کورنۍ او نور خپلوان، د ارزګان شریف خلک او د ارواښاد په زرګونو دوستان، ملګری او همسنګران یي ویرجن کړل، بلکي د افغانستان د تاریخی دشمنانو توري او کرکجني څیري یي یو ځل بیا را بربنډي او د هغوی په وړاندي یي زمونږ د وطنپالو خلکو کرکه او غوسه نوره هم راوپاروله.

ارواښاد محمد هاشم وطنوال یو پیاوړی سیاسی، ټولنیز شخصیت، د مهربانه زړه څښتن زړور مبارز او صادق سیاستوال وو او د خپل آګاهانه سیاسی ژوند تر وروستیو شیبو د سولي آزادی، دموکراسی، ملی – ټولنیز عدالت او د هیواد د اقتصادی او ټولنیز پرمختګ او ملی یووالی د ټینګښت له پاره یي په پرلپسي توګه مبارزه کوله او په دغه سخته خو له ویاړه ډکه مبارزه کي یي جیلونه، شکنجي او مهاجرتونه وزغمل، خو اراده یي کمزوري نه شوه.

زه په داسي حال کي چي د هیواد او خلکو د دشمنانو دغه خایینانه عمل په کلکه غندم، پوره باور لرم چي افغان وطنپالونکی به د وطنوال آرمان چي هغه د وطن د ملیونو

www.esalat.org

خلکو آرمان هم دی او هغه د سوله ایز، په دموکراسی ولاړ او پیاوړی او خپلواک افغانستان جوړول دی، په پوره میړانې سره سر ته ورسوی. او د هیواد د تاریخی دښمنانو ناولی خوبونه او شوم نیتونه به خاورې ایرې کړی.

زه په دې غمجنو شیبو کې د هغه درنې کورنۍ، پتمنې میرمنې، نازنینو لورګانو او نازولو زامنو: نعیم، قسیم، او نسیم او د افغانستان د واحد ګوند مشرتابه هیأت او ټولو غړو، د ارواښاد وطنوال ټولو خپلوانو، دوستانو، همسنګرانو او د هیواد د روشنفکری غورزنګ لارویانو ته خپله ژوره خواشینی څرګندوم او هغه ارواښاد ته د لوړو جنتونو هیله کوم.

ارواح دې ښاده وی!

www.esalat.org